## آیا د یوه په زړه پورې کار په لټه کې یاست؟ د ټرانسپورټ په برخه کې دنده ترلاسه کړئ!

د ټرانسپورټ سکتور د کارمندانو له کمښت سره مخ دی او داسې خلکو ته اړتیا لري چې د لوړې تنخا خالي بستونه ډک کړي. د دغه صنعت په کچه او په مجموع کې د هېواد په کچه بېلابېل کاري فرصتونه شتون لري. که تاسو په سېند کې، په آسمان کې، د رېل ګاډي په صنعت کې، یا پر سړک باندې ژوند کولو او کار کولو ته لېواله یاست، د ټرانسپورټ په برخه کې کاري فرصتونه ستاسو په تمه دي. د (Transport Canada) د ټرانسپورټ برخې دندې او د کارموندلو د لارو چارو ( Career Pathway) ویب پاڼه د موجوده دندو او د هغوی د تشریحاتو، اړینو زده کړو او اوسطو تنخاګانو په اړه مهم معلومات وړاندې کوي. که تاسو یا کوم بل څوک دې ته لېواله یاستئ د ټرانسپورټ په برخه کې د کار کولو په اړه معلومات ترلاسه کړي، په مهربانۍ سره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ:
https://tc.canada.ca/en/corporate-services/jobs-transport-canada/looking-exciting-work-get-job-transportation

په لاندې کارونو کې خلکو ته اړتیا ده چې باید د دندو فورمې ډکې کړي:

### آیا پراخ سړک مو خوښېږي؟ د لارۍ چلولو په برخه کې د دندې کوښښ وکړئ!

**د لارۍ چلول:** د لارۍ چلوونکو ته په لوړه کچه اړتیا ده. هغوی اساسي خدمات وړاندې کوي چې د کاناډا د توضیع ځنځیر له نړۍ سره نښلوي. هغوی د توکو او خدماتو د لېږد لپاره مستقیمې لارۍ یا تراکتوري ټرېلرونه چلوي. د اوږد واټن لارۍ چلوونکي په ښاري، کلیوالو او نړیوالو مسیرونو باندې درنې لارۍ چلوي چې له ټول هېواد څخه د لیدلو فرصت چمتو کوي. د لنډ واټن او محلي ټرانسپورټ د لارۍ چلوونکي په خپل ښار کې ګرځي، او اساسي خدمات وړاندې کوي. د لارۍ چلوونکي د صنعتونو لپاره کار کوي پشمول د ټرانسپورټ، تولید، توزیع او وړل راوړلو شرکتونه یا کیدای شي شخصي کار وکړي. د دې دندې یا کسب لپاره د جواز اړتیاوې توپیر لري پدې اړه چې کوم ډل لارۍ چلوي. د مثال په توګه، د اوږد جوړښت موټرو چلولو لپاره کلاس 1 یا A جواز ته اړتیا وي. تنخاګانې متفاوتې دي،خو د لارۍ تجربه لرونکي چلوونکي کولای شي تر $90,000 ډېرې پیسې جوړې کړي. د لارۍ چلولو په برخه کې د ښې تنخا دندې شتون لري چې له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره مرسته کوي چې په کاناډا کې مېشت شئ!

### آیا په آسمان کې له کار کولو سره لېواله یاست؟ په هوایي چلند کې کار کول ښایي هغه څه وي چې تاسو یې په لټه کې یاست!

**د هوایي کرښې پیلوټان یا همکار پیلوټان:** پیلوټانو او د هغوی همکار پیلوټانو ته هم په لوړه کچه اړتیا ده. سوداګریز پیلوټان د خلکو او توکو د ټرانسپورټ لپاره ډېر اړین دي. ساحوي پیلوټان د دې ډاډ ترلاسه کوي چې ټولو سیمو ته لاسرسی ولري، مهمه ده چې لویه یا کوچنۍ سیمه وي، د اړتیا وړ توکي لېږدوي او کورنۍ او ملګري سره یوځای کوي. پیلوټان تقریباً په هر ځای کې په هوایي ډګر کې کار کولای شي، چې تنخا یې په ساعت کې په اوسط ډول $45.60 ده، او ځینې پیلوټان له $150,000 څخه ډېر عاید لري. د دې لپاره چې تاسو پیلوټ شئ، ستاسو طبي معاینات باید کامیاب وي، باید روزنه ترلاسه کړئ او ډېر ساعتونه الوتنې باید وکړئ. د پیلوټ کېدو لپاره 3 لارې شتون لري:

- د کاناډا له شاهي هوايي ځواک (Royal Canadian Air Force) سره یو ځای شئ،

Canada

- په کالج کې د هوايي چلند د پروګرام لپاره نوملیکنه وکړئ، یا
- د الوتنو دمحلي ښوونځی پهټولګي کې داخلهوکړئ.

د شخصي جواز لرل خلکو ته اجازه ورکوي چې د ساتېرۍ لپاره الوتنه وکړي**!** د شخصي جواز ترلاسه کول به لږ تر لږه د الوتنې 45 ساعته روزنې ته اړتیا ولري. همدارنګه، د شخصي پیلوټۍ جواز ته معمولاً د دې لپاره اړتیا وي چې په کالج یا پوهنتون کې د هوايي چلند د پروګرام لپاره نوملیکنه وکړئ.

**د الوتکې د مراقبت او ترمیم انجینران:** د الوتکې د مراقبت او ترمیم انجینران د لوی مسئولیت لرونکي دي ځکه چې هغوی د مسافرو او پیلوټانو د خوندیتوب مسئولیت پرغاړه لري. د الوتکې د مراقبت او ترمیم انجینران د الوتکو د مراقبت او ترمیم چارې مخ ته وړي. د دې لپاره چې د الوتکې د مراقبت او ترمیم جواز لرونکی انجینر شئ، ستاسو عمر باید لږ تر لږه 21 کاله وي، د الوتکې د مراقبت او ترمیم د انجینرۍ لپاره د کاناډا ترانسپورټ (Transport Canada) له خوا تایید شوی اساسي روزنیز پروګرام باید بشپړ کړئ، او باید د کاناډا د ترانسپورټ له خوا جواز درکړل شوی وي. د الوتکې د مراقبت او ترمیم د انجینر تنخا ډېره رقابتي ده چې په اوسط ډول په ساعت کې $37 کېږي. دغه دنده ښې آسانتیاوې او انعطافوړاندې کوي او د ورته لېوالتیا لرونکو خلکو د لیدو لپاره غوره لاره ده.

**د هوايي ترافیکو کنټرولوونکي:** د هوايي ترافیکو کنټرولوونکي دندې د ښه معاشلرونکي غوره دندې دي. د هوايي ترافیکو کنټرولوونکي هوايي ترافیکو ته لارښوونې کوي او الوتکې کنټرولوي او په هوايي ډګر کې د وسایطو د سرویس چارې مخ ته وړي چې تنخا یې په اوسط ډول په ساعت کې $45.00 ده. د دې لپاره چې د هوايي ترافیکو د کنټرولوونکي په توګه دنده ترلاسه کړئ، تاسو باید د لیسانس کچې زده کړې بشپړې کړې وي، باید د راډیو او تلفون اړیکو د سمبالونې سند ولرئ، د NAV Canada د هوايي ترافیکو د کنټرولوونکي روزنیز پروګرام مو باید بشپړ کړی وي، او باید د کاناډا د ترانسپورټ اداري جواز ولرئ. ځینې دندې کېدی شي د هوايي ترافیکو په کنټرول یا د پروازونو د تنظیم په برخه کې تجربې او د شخصي پیلوټۍ جواز ته اړتیا ولري، اما ټولې دندې دا ډول شرایط نه غواړي. د هوايي ترافیکو هر کنټرولوونکی شخصباید د لوړې کچې په ذهني فشار لرونکي چاپېریال کې کار وکړي، اما په ورته وخت کې به د غوره عاید لرونکی وي.

**آیا اوبه مو خوښېږي؟ سمندري سکتور ستاسو په لټه کې دی!**

**د کښتۍ او کېبل فېري چلوونکي:** د کښتۍ او کېبل فېري چلوونکي او د اړونده مسلکونو کارمندان د کانال د سیستمونو په اوږدو کې د بندو دروازو، پلونو او ورته تجهیزاتو د تنظیم چارې مخ ته وړي او کېبل فېري کښتۍ او ترمینالونه اداره کوي. په دغه واحد ګروپ کې همدارنګه د کښتیو چلوونکي، او مالک چلوونکي هم شاملېږي، چې د مسافرینو یا بار د لېږد لپاره کوچنۍ قایقې یا د اوبو کښتۍ چلوي. هغوی د فدرالي حکومت، د کېبل فېري د کمپنیو، د فېري کښتیو د ترمینالونو، سمندري کمپنیو او کانالونو، بندري نهادونو له خوا په دندو ګومارل کېږي. د کوچنیو کښتیو مالک چلوونکي شخصي کاروبار لري. د دغه کار لپاره معمولاً د لنډې مودې تجربې ته اړتیا ده او رسمي زده کړو ته اړتیا نه لري. په کاناډا کې د کښتیو او کېبل فېري د چلوونکو لپاره تنخا په اوسط ډول په ساعت کې $24.00 ده،

**د بېړۍ د عرشې مسئولین:** د بېړۍ د عرشې مسئولینو ته په لوړه کچه اړتیا ده او په کاناډا کې د هغوی تنخا په اوسط ډول په ساعت کې $34.86 ده. هغوی خپلو بېړیو ته لارښوونه کوي، مانوروونه ورباندې کوي او په خوندي توګه یې اداره کوي، د بېړۍ او ساحل ترمنځ اړیکې ټینګوي، کارګو اداره کوي او لیږدوي، او د ژوند د ژغورنې له وسایلو څخه د استفادې چارې مخ ته وړي. د دغه دندې لپاره معمولاً د کالج ډیپلوم، 2 کلنې یا د ډېرو کلونو کاري زده کړې، یا د څارنې په مسلک کې د تجربې لرلو ته اړتیا لري. د بېړۍ د عرشې مسئول یعني دا چې تاسو به د اوبو په شاوخوا کې یاست او د دې فرصت لرئ چې خپل ښار، ولایت، شاوخوایا حتی نړۍ د اوبو له لارې ووینئ!

**د عرشې او انجن خونې عمله:** د اوبو برخې د ترانسپورت د عرشې او انجن خونې عمله د عرشې له تجهیزاتو څخه څارنه کوي، عملیاتي او د ترمیم چارې یې مخ ته وړي، د عرشې او پول اړوندهنورې چارې مخ ته وړي، او د بېړۍ له انجینرانو او مسئولینو سره د انجن، ماشین او کومکي تجهیزاتو په چلولو، مراقبت او ترمیم کې مرسته کوي. هغوی یا د سمندري ترانسپورت د کمپنیو له خوا یا د فدرالي حکومت د بنسټونولخوا په دندو ګومارل کېږي. دغه په زړه پورې کار یعني په اوبو کې د اوږدې موده تجربه! د عرشې او انجن خونې د عملې تنخا په اوسط ډول په ساعت کې $27.47 ده.

**د رېلګاډې په صنعت کې کار کول هم کور ته نږدې او هم له کوره لرې ګڼ شمېر فرصتونه وړاندې کوي!**

**د اورګاډې د پټلۍ لارښوونکی:** د اورګاډې د پټلۍ لارښوونکي په کاناډا کې د خلکو او توکو د لېږد رالېږد لپاره ډېر مهم ګڼل کېږي. هغوی د مسافرینو او د اورګاډې د عملې ترمنځ د فعالیتونو د همغږۍ او څارنې چارې مخ ته وړي. د برېک مسئول کسان مخکې له دې چې اورګاډې وخوځېږي، د اورګاډې برېکونه او نور سیستمونه او همدارنګه اړونده تجهیزات چک کوي او په مسیر کې د پټلۍ له لارښوونکو سره د اړونده فعالیتونو په ترسره کولو کې مرسته کوي. هغوی د اوسپنې پټلۍ د ترانسپورتي کمپنیو لخوا په دندو ګومارل کېږي. د دغه مسلک لپاره معمولاً د کالج ډیپلوم، تر 2 کلونو د لږ مودې کاري زده کړې، او په دنده کې له 6 میاشتې ډېرې روزنې ته اړتیا وي. د اورګاډې د پټلۍ د لارښوونکو تنخا په اوسط ډول په ساعت کې $38.00 ده.

**د اورګاډید پټلۍ انجینر:** د اورګاډې د لېږد رالېږد انجینر په خوندي او هوسا توګه د لېږد د چلېدو مسئولیت پر غاړه لري. هغوی د مسافرینو او بار د ترانسپورت لپاره د اورګاډې د لېږد رالېږد چارې مخ ته وړي. هغوی د اورګاډو د کمپنیو له خوا په دندو ګومارل کېږي. د محوطې د لېږد رالېږد انجینر د اورګاډې، صنعتي یا نورو تاسیساتو د ننه د لېږد رالېږد چارې مخ ته وړي. هغوی د اورګاډې د ترانسپورتي شرکتونو او د ریل ګاډو د صنعتي یا سوداګریزو استفاده کوونکو له خوا په دندو ګومارل کېږي. د دغه مسلک لپاره معمولاً د کالج ډیپلوم، تر 2 کلونو د لږ مودې کاري زده کړې، یا په دنده کې له 6 میاشتو د ډېرې مودې روزنې ته اړتیا وي. په کاناډا کې د اورګاډې د پټلۍ د انجینر تنخا په اوسط ډول په ساعت کې $40.16 ده. دا یوه په زړه پورې دنده ده چې تاسو او ستاسو دکورنۍ سره په کاناډا کې د مېشتېدو په برخه کې مرسته کویاو تاسواو ستاسو کورنۍ تهبه غوره ژوند برابر کړي!